**AFGHAN GERMAN ONLINE**
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de
افغان جرمن آنلاین

مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

پوهندوی آصف بهاند
۲۰۱۹/۰۶/۱۱

# «روکیه! رشاد صاحب بحر دی، بحر...»

## (د استاد جلال الدین خان کونړي مړینه)



د کابل پوهنتون ادبیاتو پوهنځي پښتو څانګي پخوانی استاد پوهنوال جلال الدین خان کونړی د ور پېښې ناروغۍ له امله وفات شوی دی. د استاد مړینې داسې وردرولم لکه د استاد بایزید اشک او استاد حبیب الله جاج پښتونزوی مړینو. د اشک صاحب پر مړینې مې دلته په اروپا کې یو څو تودې اوښکې تر سترګو تویې شوې، یو څو ساړه آهونه مې تر خولې ووتل او د خدای دربار ته مخ پورته ولاړل، د استاد حبیب الله جاج پښتونزوی د مړینې په ورځ تیار په کابل کې وم، ورغلم او د کابل عیدګاه جومات په لوی میداني کې مې لومړی غلي، غلي په زړه کې ژړل، خو کله یې چې تابوت ته ودرېدم، داسې مې وانګیرله چې استاد مړ پروت نه، بلکې په ټولګي کې راته ولاړ دی او بیا په خپل خاص ستایل او یوې ځانګړې شوخې ژبې سره غږېږي. زما پر مخ د اوښکو د لښکر وار نه کېده.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیرلو مخکې په ځیر و لولئ

او اوس دا دی بیا له زرګونو کیلو مترونو لرې واټن نه د استاد جلال الدين خان کونړی مړي ته ناست يم، اوښکې، آهونه او اسويلي وار نه راکوي.

د ۱۳۵۵ ام کال د حمل له دويمې، بيا د شپيتمې لسيزې تر نيمايي پورې چې دی نور مهاجر شو؛ ټولې علمي خاطرې، لکچرونه، خندا، جديت، مهرباني، آرامتيا او ځانګړي حرکات يې زما د سترګو په آئنه کې، لکه بريښنا هره شيبه پرک وهي تېرېږي او ځي راځي.

استاد جلال الدين خان کونړی وروسته تر علامه رشاده د ادبي فنونو يو برحقه استاد و او په دې برخه کې يې ګڼشمير مقالې او علمي آثار ليکلي دي.

د درسونو د تشريح کولو په وخت کې به يې د ډېرو علمي مسايلو حواله پر علامه بابا (رشاد صاحب) باندې ورکوله او دا جمله يې تل پر ژبه جاري وه:

## «روکيه! رشاد صاحب بحر دی، بحر...»

او ده خپله هم د رشاد صاحب د علومو له بحر نه ډېرې لپې ډکې کړې وې او د هغو په رڼا کې يې چې کله د شعر پر وزن او جوړښت باندې خبرې کولې، ډېرې دقيقې او علمي به وې، د شعر شکلي جوړښت به يې داسې راسپړه او شرحه کاوه، لکه يو طبيب چې د انسان د وجود جوړښت شرحه کوي. د شعر په قافيه کې به يې سُسته او چُسته قافيه د شاه بيتونو په راوړلو سره داسې توزيح کوله چې ټک او پټرې به د زده کونکو په ذهن کې ځای پر ځای کيدله، د قافيې حرکات (ردف او روي) به يې په ځانګړو مثالونو سره د شاګردانو له پاره واضح کول او...

له بده شامته چې د استاد جلال الدين خان کونړی بيوګرافي د څو لسيزو په لړ کې، په ليکل شوو تذکرو:

**ـ د ښېنوا صاحب اوسني ليکوال،**

**ـ د ټکور صاحب دا ليکوال او دا څېرې،**

کې نه ده ثبت شوې، خوشومره چې ما ته، د ده د يو شاګرد او همکار په صفت، د ده بيوګرافي مالومه ده، په لنډ ډول به يې وليکم:

د استاد پوهنوال جلال الدين کونړي د پلار نوم غلام سرور و او د کونړ ولايت د خاص کونړ په ولسوالۍ کې تقريباً نوي (۹۰) کاله پخوا زيږيدلی و. لومړنۍ زده کړې يې د کلي په جوماتت کې پيل کړې او بيا د خاص کونړ له لېسې څخه فارغ شو.

رسمي دنده يې په ۱۳۳۲ کې د رحمان بابا په لېسه کې د ښوونکي په توګه پيل کړه. د همدې دندې په سلسله کې په ۱۳۳۸ کال کې د پکتيا ولايت د پوهنې رياست مرستيال هم شو. خو په ۱۳۴۲ کې وتوانېده چې په کابل پوهنتون کې خپلې لوړې زدکړې پيل کړي. د ليسانس ديپلوم له ترلاسه کولو وروسته د همدې پوهنځي د علمي کدر غړی شو او تقريباً پنځه ديرش کاله يې د استادۍ دنده په خورا حوصلې سره ترسره کړه. ميډيا داسې وايي چې استاد پوهنوال جلال الدين کونړي د ۲۰۱۹ کال د جون پر نهمه (۹) په پېښور کې وفات شوی دی.

د ۱۳۵۵ ام کال پسرلی و او زما (آصف بهاند) د ليسانس دورې د زدکړو د پيل لومړۍ ورځ وه چې ما استاد جلال الدين خان کونړي د لومړي ځل له پاره وليد. زما ښه په ياد دي چې علامه عبدالشکور رشاد مونږ ته د ادبي فنون او وزنپوهنې د مضامينو تدريس کاوه، استاد جلال الدين خان کونړی او نصرالله خان ګرندی به له علامه بابا سره د اسيستانت په توګه ټولګي ته راتلل؛ خو وروسته بيا په څو سمسترونو کې جلال الدين خان کونړي د ادبي فنونو د تدريس تر څنګه، د نورو مضامينو د تدريس له پاره هم زما استاد پاتې شوی دی.

څو پرلپسې کلونه د کابل پوهنتون د ادبياتو پوهنځي د پښتو څانګې مشر پاتې شوی دی او په مدبرانه ډول او پراخه حوصلې سره يې د پښتو څانګې مشري کړېده.

استاد جلال الدين  د نوي نسل د روزلو په سلسله کې د يوې ډېوې حيثيت درلود او د خپل تدريس په موده کې يې ډيرې نورې ډېوې هم بلې کړې چې اوس يې رڼايي د افغانستان په هر ګوټ کې، په ډېرو ښونځيو کې خپرېږي او د همدې ډيوو په رڼا کې نوي نسلونه روزل کېږي.



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليرلو مخکې په ځير و لولئ

د پوهنوال استاد جلال الدین خان کونړي مړيني د ده کورنی، علمي فرهنگي کړی او په تېره د ده دوستان او شاگردان خواشيني کړېدي. په میدیا کې د ځینو غمجنو د ویرونو او خواشینیو پر پیامونو ورپېښ شوم، د څو تنو شاگردانو د پیامونو لنډيز يې را اخلم.

استاد بريالي باجوړي داسې ليکلي دي:

«په ډيرې خواشينې سره خبر شوم چي د کابل پوهنتون د ادبياتو پوهنځي پښتو څانګې استاد پوهنوال جلال الدین کونړی هم په ابدي سفر ولاړ. استاد جلال الدين خپل ټول عمر د معارف او پوهنتون د ځوان نسل په روزنه کې تير کړ. ډير کلونه د پښتو څانګې مشر او د ادبي فنونو د مضمون استاد و. استاد په دغه برخه کې ډيرې ارزښتمني څيړني وکړې. استاد د نيکو خويونو خاوند او ډير صميمي شخصيت و. تل به يې خوله له خندا ډکه او يو مينه ناک انسان. خواخوږي او د نورو سره يې مرسته د شخصيت عمده برخه وه. خداي دې بهتره جنتونه ورکړي. کورني او دوستانو ته يې صبر او حوصله غواړم.»

استاد لال پاچا آزمون خپله خواشيني داسې څرګنده کړېده:

«نن سهار په خره د خپل منلي استاد جلال الدين خان کونړي چې په خوږه ژبه يې راته فنون ښودل له ناڅاپي مړيني خبر شوم. د زيارخان ياد پر ليک مې سترګې ولګېدې چې د دغه منلي استاد د مړيني په باب يې ليکلی و. استاده ! الله دې دربانډې ورحميږي. استاد مې د ليسانس دوري يو خوږ ژبي خوش اخلاقه او د ښه فصاحت او بلاغت خاوند استاد و. تل يې هڅولم. د نظم تخنيکي اړخونه يې را زده کړل. د بيان او قافيې خواږه يې راکړل. زه به يې ياد تل په ښو ګرځوم. افسوس چې رانه لرې د پېښور پر ديار اوسېده او ما يې هيڅ خدمت ونه شو کولی. همدا ارمان پر زړه پاتې شو چې کاش ما يې خدمت کړی وای. اوس د ليکلو توان نه لرم که ژوند باقي و د استاد خاطرې او هڅې به درسره شريکې کړم. استاد ته جنتونه او کورنی ته يې د زړه صبر او تسليت غواړم.»

محمد صفر خواريکښ يې هم شاګرد و او هم يې شخصي دوست، خواريکښ هم د استاد پر مړينه خپله خواشيني څرګنده کړېده، په دې ډول:

«د انسانيت ، بې ريا مينې ، سرېتوب او پښتونولی سپېڅلی ځلی، د کابل پوهنتون د ادبياتو او بشري علومو پوهنځي استاد جلال الدين خان کونړي له دې فاني نړۍ سترګې پټې کړې. اروا يې ښاده او جنتونه يې نصيب شه.

د استاد جلال الدين خان مړينه د هيواد په علمي ډګر او په زياته کچه په پښتو ادب کې ستره تشه رامنځ ته کړه. استاد د بدني توان تر وروستي حده د ادب په پیاوړتیا کې د ستاينې وړ ونډه اخيستې ده. اروښاد جلال الدين خان کونړی مې د استادی ترځنګ ډېر د حساب وړ او زړه خوږی دوست هم و. له استاد سره په لومړۍ ناسته کې انسان دده ښېګنې او غوره انساني ځانګړني محسوسولی شوی. ما ته يې په ملګرتيا کې تل لکه د مشر ورور مينه راکړې ده ، په مړينه يې سخت وردرېدم او غمېږم خو انسان د مرګ مخه نه شي نيولي له لاچارۍ يې روح ته په دعا بسنه کوم . لاس لپه کوم او له لايزال څښتن ورته د مغفرت غوښتنه کوم.

له پتمن کهول ، کامران جان او کستير جان سره يوځای د غم په تږغ کېنم او دځان په شمول ټولي درني کورنۍ او دوستانو ته يې د جميل صبر او ددغه غم دزغم هيله لرم.»

**او په پای کې باید ووایم چې:**

استاد جلال الدین کونړی د هېواد پر هر بچي ځکه حق لري چې د خپل عمر ډېره برخه يې د وطن د ښوونکو په روزلو باندي تېره کړېده، د هېواد په هر ګوټ کې د ده شاګردان د ښونکو په توګه د هېواد د نوي نسل په روزلو لګيا دي، ډېر لږ ښونځي به وي چې د ده له خوا روزل شوي ښونکي په کې په دنده بوخت نه وي.

د استاد جلال الدین نه شتون، د افغانستان علمي کورنی ته، په تیره پوهنتوني علمي کورنی ته یوه تشه ګڼل کېږي چې تر ډېرو به ډکه نه شي.

استاد جلال الدین کونړی عالم او حقداره شخصیت و،

خدای دې وربادې ورحمېږي.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ